اې خلکو! الله پاک دی او له پاکې پرته بل څه نه قبلوي، او الله تعالی مومنانو ته د هغه څه امر کړی چې رسولانو ته يې امر کړی و

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «اې خلکو! الله پاک دی او له پاکې پرته بل څه نه قبلوي، او الله تعالی مومنانو ته د هغه څه امر کړی چې رسولانو ته يې امر کړی و، نو فرمايلي يې دي: {يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا، إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ} يعنې: (اې رسولانو! تاسو له پاکيزه څيزونو خورئ او نېک عملونه کوئ، بېشکه زه په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ، ښه عالم يم.[المؤمنون: 51] او فرمايلي يې دي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} [البقرة: 172] يعنې: اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! له هغو پاکو حلالو څيزونو څخه خورئ چې مونږ تاسو ته درکړي دي. بيا يې د داسې يو سړي يادونه وکړه چې اوږد سفر يې کړی وي، سر يې ببر وي او په ګردونو ککړ وي، د اسمان لور ته لاسونه پورته کړي او ووايي چې اې ربه! اې ربه! په داسې حال کې چې خوراک يې حرام وي، څښاک يې حرام وي، لباس يې حرام وي او په حرامو تغذيه شوی وي، نو څنګه به يې دعا قبوله شي!»

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله جل جلاله پاک، ستايل شوی او له هر ډول نېمګړتياوو او عيبونو څخه پاک او په کمالاتو سره ياد شوی دی، او الله جل جلاله له عملونو، ويناوو او عقايدو څخه يوازې هغه قبلوي چې پاک وي، کوم چې خاص د هغه لپاره وي، د هغه د پېغمبر د لارښوونو سره برابر وي، او نه ښايي چې له هغه پرته الله تعالی ته پر بل څه سره څوک نږدې شي، او تر ټولو ستر لامل چې په هغه سره د مؤمن عملونه پاکيزه کيږي، هغه پاک او حلال خواړه دي، چې په دې سره يې عمل پاکيږي. له دې امله الله تعالی مومنانو ته پر هغه څه امر کړی چې پېغمبرانو ته يې پرې کړی و، چې هغه حلال خواړه او نېک عملونه دي، الله تعالی فرمايلي يې دي: {يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا، إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ} «اې رسولانو! تاسو له پاکيزه څيزونو خورئ او نېک عملونه کوئ، بېشکه زه په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ، ښه عالم يم». او فرمايلي يې دي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ}. يعنې: «اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! له هغو پاکو حلالو څيزونو څخه خورئ چې مونږ تاسو ته درکړي دي». بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د حرامو خوړلو په اړه خبرداری ورکړ، کوم چې عمل فاسدوي او د قبلېدو مخه يې نيسي، که څه هم د قبلېدو لپاره يې څومره ظاهري اسباب وکاروي لکه: لومړی: د طاعت په مقصد د سفر اوږدول لکه حج، جهاد، کورنۍ اړيکې پالل او داسې نور. دوهم: ګډوډ وېښتان چې ګمنځ شوي نه وي، د ځان او کالیو رنګ يې خړپړ کېدل او په خاورو ککړېدل، هغه څه چې د ده پر اړمنتيا دلالت کوي. دريم: د اسمان لور ته په دعا سره لاسونه پورته کوي. څلورم: الله تعالی ته د هغه نومونه وسيله کوي او زيات ټينګار کوي لکه چې وايي: اې ربه! اې ربه! سره له دې ټولو اسبابو يې بيا هم دعا نه اوږدل کيږي؛ ځکه چې خوراک، څښاک او لباس يې حرام دی او په حرامو سره خوراک ورکول شوی دی، نو لرې ده چې د دا ډول صفت لرونکو دعا قبوله شي، او څنګه به يې دعا قبوله شي؟!

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4316